د افغانستان اسلامي امارت
د کډوالو او راستنېدونکو چارو وزارت
مالی او اداري معینیت
د اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست
د اطلاعاتو آمریت




# هفته نامه راستنیدنه عودت


(۷۱)گنه وږی ۱۴۰۴: شماره (۷۱) سنبله ۱۴۰۴ :صفحه اول:لومړی مخ


## د کډوالو او راستنېدونکو چارو د محترم وزیر مولوي عبدالکبیر په مشرۍ د هېواد په ختیځ کې د وروستۍ زلزلې له امله داخلي بېځایه شوو ته د خدماتو رسولو او په کابل کې د راستنو شوو وړاندېزونو ته د رسیدنې په هکله ناسته وشوه.

په دې ناسته کې چې د کډوالو چارو وزارت څو تنو مسوولینو برخه لرله، په پیل کې داخلي بېځایه شویو ته پر بېړنیو مرستو او کابل ته د ورستنو شویو د ستونزو په اړه خبرې وشوې. د ناستې برخه والو یادونه وکړه، چې د کډوالو چارو وزارت د امکاناتو سربېره ځینې موسسې چمتو دی چې بېځایه شویو ته بیړنۍ مرستې ورسوي. دوی همدارنگه کابل ولایت ته د ورستنو شویو د ستونزو د حل په موخه خپل نظرونه شریک کړل او یادونه وشوه، چې ژر به په کابل کې د راستنو شویو غوښتنو ته رسیدنه وشي. د ناستې پر دوام محترم مولوي عبدالکبیر مسوولینو ته د لارښوونې پر مهال یادونه وکړه، چې د کډوالو چارو وزارت ټول امکانات کورني بېځایه شویو او هېواد ته د راستنو شویو په خدمت کې دي او هر راز مرسته چې اړتیا وي باید پر وخت وشي. محترم وزیر څرگنده، چې بېځایه شویو ته د اړتیا وړ مرستو د رسولو په موخه به له اړوندو نړیوالو ادارو سره ووینې او همدارنگه د زلزلې له امله بېځایه شوو ته د مرستې رسولو په موخه به، په کابل کې مېشت بهرني سفارتونه همکارۍ ته وهڅوي. د ناستې په پای کې مسوولینو ته دنده وسپارل شوه، چې د زلزلې له امله زیانمنو شویو سیمو ته د کډوالو چارو د وزارت امبولانسونه، د اوبو رسولو ټانکرونه او بار وړونکې لارۍ ولېږي.





## د کډوالو او راستنېدونکو چارو وزیر محترم مولوي عبدالکبیر د کابل په چهار اسیاب ولسوالۍ کې د اوبو رسولو یوې شبکې په پرانیسته کې گډون او وینا وکړه.

د چهار اسیاب په ولسوالۍ کې د اوبو رسولو یاده پروژه د کډوالو چارو د وزارت په تخنیکي همکارۍ او د اسلامي همکاریو د سازمان په مالي ملاتړ بشپړه شوې. د اسلامي همکاریو د سازمان سفیر ښاغلی محمد سعید العیاش له یاد سازمان سره د عامه پروژو په بشپړولو کې د کډوالو چارو وزارت له همکارۍ مننه وکړه او ویې وویل، چې یاده پرروژه په ودانېزه برخه کې د اسلامي امارت او د اسلامي همکاریو د سازمان د گډې همکارۍ ښه پیل دی. ښاغلي العیاش د مدرسو او جوماتو د رغولو په برخه کې د اسلامي همکاریو د سازمان د ژمنتیا یادونه وکړه او زیانه یې کړه، چې تمه ده د کډوالو چارو وزارت په تخنیکي همکارۍ ورته نورې رغنیزې چارې هم پیل کړي. محترم مولوي عبدالکبیر په افغانستان کې د اسلامي همکاریو د سازمان فعالیت مهم یاد کړ او له افغانانو سره د یاد سازمان د بشري مرستو ستاینه یې وکړه. محترم وزیر په هېواد کې د عامه پروژو د رغولو په برخه کې د اسلامي همکاریو د سازمان د مرستو د دوام غوښتنه وکړه او زیاته یې کړه، چې اسلامي نړۍ دې د جوماتونو، مدرسو او ښوونځیو په رغولو کې ونډه واخلي. محترم وزیر څرگنده کړه، چې اسلامي امارت له هرې ممکنې شرعي لارې د جوماتونو او ښوونیزو مرکزونو د ابادولو هڅې کوي او دا لړۍ به دوام ولري.



## وزیرامور مهاجرین و عودت کنندگان با رئیس شورای مهاجرین کشور دنمارک دیدار کرد

محترم مولوی عبدالکبیر وزیرامور مهاجرین و عودت کنندگان با خانم چارلت سلنته رئیس شورای مهاجرین کشور دنمارک دیدار کرد. در این دیدار که مقامات شورای مهاجرین کشور دنمارک برای افغانستان و آسیای مرکزی نیز حضور داشتند، در مورد ارائه کمک به افغان‌های بیجاشده که در اثر زلزله و کسانی که از کشورهای همسایه بازگشته‌اند، بحث و تبادل نظر شد. خانم چارلت سلنته مراتب تسلیت خود را به محترم وزیر مهاجرین به خاطر جان باختن و زخمی شدن هموطنان در زلزله ابراز کرده افزود: شورای مهاجرین دنمارک (DRC) کمک‌های اضطراری خود را به شرق افغانستان ارسال کرده و شرکای آن در هماهنگی با امارت اسلامی در حال همکاری هستند. او بر همکاری با وزارت مهاجرین تأکید کرد و از خدمات ارائه شده توسط امارت اسلامی به عودت‌کنندگان قدردانی نمود. خانم سلنته پیشنهاد ساده سازی کارهای اداری را برای کمک به مهاجرین در رسیدن به موقع به مقصد را ارایه نموده و افزود: علاوه بر کمک‌های کوتاه‌مدت، باید راه‌حل‌های دائمی برای بحران مهاجرین در نظر گرفته شود. او بازگشت اجباری مهاجرین را نگران‌کننده توصیف کرد گفت: نگرانی‌های مربوط به مهاجران افغان را با مقامات پاکستانی و ایرانی در میان خواهد گذاشت و همچنین در حاشیه نشست شورای امنیت سازمان ملل متحد، مشکلات مهاجرین افغان را با کشورهای مربوطه مطرح خواهد کرد. محترم مولوی عبدالکبیر از مسئولین و نمایندگان شورای مهاجرین دنمارک استقبال کرده و از کمک‌های بشردوستانه‌ای که ارائه می‌دهند، قدردانی کرد. محترم وزیر امور مهاجرین گفت: بیجاشده گان ناشی از زلزله به کمک های فوری غذایی و غیر غذایی نیاز دارند و امارت اسلامی کمیته ای را برای سازماندهی و رساندن کمک ها به آسیب دیدگان موظف نموده است. ایشان بر لزوم کمک نقدی به بیجاشده گان و بازسازی منازل آنها تأکید کردند و خاطرنشان ساختند که سازمان های بین المللی باید از هرنوع سعی و تلاش در کمک به آوارگان دریغ نکنند. در ادامه نشست، محترم مولوی عبدالکبیر گفت: امارت اسلامی در تلاش است تا برای بازگشت کنندگان زمینه اشتغال را فراهم کند و برای حل دائمی مشکل مهاجرت تلاش می‌کند.



## معین مالی و اداری وزارت امور مهاجرین، با رئیس اداره کمک های بشردوستانه کشور ناروی دیدار کرد

محترم شیخ کلیم الرحمن فانی، معین مالی و اداری وزارت امور مهاجرین و عودت کنندگان، در دیدار با اریک ابیلد، رییس اداره کمک های بشردوستانه کشور ناروی و هیئت همراهش، در مورد وضعیت مهاجرین بازگشته از ایران و آسیب دیدگان زلزله شرق کشور و افزایش کمک ها گفتگو کرد. محترم فانی علاوه بر خوشامدگویی به مهمانان، در مورد بازگشت اجباری مهاجران از ایران و خسارات ناشی از زلزله شدید شرق کشور صحبت کرد. مشاور سفارت کشور ناروی در اسلام آباد گفت: ناروی از کشورهای دوست سابق این کشور است امنیت در افغانستان بهبود یافته است و ما با اطمینان خاطر از مناظر طبیعی افغانستان لذت بردیم ، دوره چهار ساله امارت از این جهت بسیار موفقیت آمیز بود که در هر جنبه طبیعی و غیرطبیعی دوش به دوش شهروندان خود بود،ایشان به زلزله اسلام قلعه هرات و شرق کشور اشاره کرده افزود: مسئولین و موسسات خیریه امارت در این زمینه دوش به دوش آسیب دیدگان ایستادند و در هر موقعیتی به آنها کمک کردند. او افزود که ما به اسلام قلعه رفتیم، اما چیزی که ما را شگفت زده کرد این بود که مقامات امارت از بازگشت کنندگان خود بسیار خوب مراقبت می کردند. او مراتب تسلیت خود را به خاطر زلزله کنر ابراز کرد و از تلاش های امارت قدردانی کرد. در این دیدار، رئیس اداره کمک های بشردوستانه کشور ناروی گفت: بسیار تعجب آور بود که مقامات امارت در کنار آسیب دیدگان زلزله کنر روی یک گلیم نشستند و بلافاصله بدون معطلی به آنها

کمک کردند به همین ترتیب، در اسلام قلعه دیدیم که مقامات شانه به شانه در کنار مهاجرین خود ایستاده بودند تا از آنها مراقبت کنند. او افزود که ناوری از طریق شرکا و بنیادهای خیریه خود ۵۸ میلیون دلار به افغان‌ها کمک خواهد کرد و همچنین اقداماتی را برای ارائه کمک‌های دیگر انجام خواهد داد و ناروی در کنار مردم افغانستان متحد است و آنها را در شرایط سخت تنها نخواهد گذاشت.
معین مالی و اداری وزارت امور مهاجرین از اطمینان‌دهی و حمایت و کمک‌های دوامدار آنها تشکری کرد افزود: در حدود ٦ ماه، بیش از ١.٦ میلیون افغان از ایران و پاکستان خارج شده‌اند ما در قبال مراقبت از مردم خود در پیشگاه خداوند متعال مسئول هستیم و از ما بازخواست خواهد شد، بنابراین هرگز در مراقبت از مردم خود تردید نخواهیم کرد.
محترم معین مالی و اداری گفت: بسیار غم‌انگیز است که مهاجرین افغان ما در کشورهای میزبان خود زندگی خوبی برای خود ساخته بودند، اما یک عزیمت ناگهانی و غیرمنتظره آنها را مجبور کرده است که زندگی خود را از صفر شروع کنند، که این یک وضعیت بسیار دشوار است ما امیدواریم که در زمینه‌های سرپناه، بهداشت، آموزش و سایر خدمات ضروری به آنها کمک شود. هر دو طرف نسبت به همکاری مداوم ابراز اطمینان کردند.



## د کډوالو چارو وزارت مسلکي معین د ترک او افغان سوداګرو د ټولنې له مشر سره وکتل

د کډوالو او راستنېدونکو چارو وزارت مسلکی معین الحاج مولوي عبدالرحمن راشد د ترک او افغان سوداګرو د ټولنې له مشر ښاغلي علاءالدین دولت اولګر او د ترکیې یو شمېر سوداګرو سره په خپل کاري دفتر کې وکتل.
ښاغلي علاءالدین د دې ټولنې د جوړېدو موخه او فعالیتونه له محترم راشد سره شریک کړل او په ترکیه کې د مېشتو افغاند کډوالو د ملاتړ او همکارۍ ډاډ ورکړ.
د کډوالو او راستنېدونکو چارو وزارت مسلکی معین د ښاغلي علاءالدین او ورسره مل پلاوي هرکلی وکړ او ویې ویل، چې په ترکیې کې د مېشتو افغان د کډوالو قانوني ستونزو ته به رسېدنه وشي. محترم راشد په ترکیې کې د مېشتو د کډوالو د هر اړخیز ملاتړ او همکارۍ پر اهمیت ټینګار وکړ او غوښتنه یې وکړه، چې د کډوالو دې په خپله خوښه او په خوندي ډول خپل هېواد ته راستانه شي.



## د کډوالو چارو وزارت مسلکي معین د ترک او افغان سوداګرو د ټولنې له مشر سره وکتل

د کډوالو او راستنېدونکو چارو وزارت مسلکی معین الحاج مولوي عبدالرحمن راشد د ترک او افغان سوداګرو د ټولنې له مشر ښاغلي علاءالدین دولت اولګر او د ترکیې یو شمېر سوداګرو سره په خپل کاري دفتر کې وکتل.
ښاغلي علاءالدین د دې ټولنې د جوړېدو موخه او فعالیتونه له محترم راشد سره شریک کړل او په ترکیه کې د مېشتو افغان مهاجرینو د ملاتړ او همکارۍ ډاډ ورکړ.
د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزارت مسلکی معین د ښاغلي علاءالدین او ورسره مل پلاوي هرکلی وکړ او ویې ویل، چې په ترکیې کې د مېشتو افغان مهاجرینو قانوني ستونزو ته به رسېدنه وشي. محترم راشد په ترکیې کې د مېشتو مهاجرینو د هر اړخیز ملاتړ او همکارۍ پر اهمیت ټینګار وکړ او غوښتنه یې وکړه، چې مهاجر دې په خپله خوښه او په خوندي ډول خپل هېواد ته راستانه شي.



## رئیس دفتر مقام وزارت امور مهاجرین و عودت‌کنندگان به ولایت ننگرهارسفر نمود

بتاسی ازهدایت محترم مولوی عبدالکبیر وزیر امور مهاجرین و عودت کنندگان، تحت ریاست محترم سعید احمد بنوری رئیس دفتر مقام این وزارت درراس هیأتی به هدف بررسی وضعیت مهاجرین عودت‌کننده از پاکستان، به خط فرضی تورخم به ولایت ننگرهار سفر نمود.
در این سفر که عرفان الله عباد رئیس امور کارکنان وزارت، نیز هیأت را همراهی می‌کرد، پس از دیدار با مسئولین آمریت امور مهاجرین کمپ عمری تورخم و چگونگی وضعیت کمپ بازدید صورت گرفت و مشکلات مهاجرین عودت کننده از نزدیک بررسی گردید.
رئیس دفتر وزارت امور مهاجرین به مسئولین کمپ هدایت‌های لازم داد تا به مشکلات مهاجرین عودت‌کننده به‌گونه فوری رسیدگی لازم نمایند.
همچنان موصوف با مسئولین کمیته دوازده گانه دیدارنموده، کارهای آنان را مورد ارزیابی قرار داده و اطمینان داد که برای حل مشکلات اقدامات لازم روی دست گرفته خواهد شد.
مولوی سعید احمد بنوری تصریح کرد که رهبری وزارت امور مهاجرین و عودت‌کنندگان در همکاری با نهادهای بین‌المللی تلاش می‌نماید تا به مشکلات مهاجرین بهتر رسیدگی صورت گیرد.



## د کډوالو او راستنېدونکو چارو وزارت د دفتر رییس د تورخم له کمیسار سره ولیدل

د کډوالو او راستنېدونکو چارو وزارت مقام د دفتر رییس محترم مولوي سعید احمد بنوري د تورخم له فرضي کرښې څخه د لیدنې پر مهال د د کډوالو د وضعیت د خدمتونو او د لا ښه تنظیم په موخه د تورخم له کمیسار محترم عبدالحکیم مصباح سره ولیدل.
په دې لیدنه کې دواړو لوریو د راستنېدونکو کډوالو د ستونزو په اړه مفصل بحث وکړ او خپل نظرونه یې سره تبادله کړل.
محترم مولوي سعید احمد بنوري ډاډ ورکړ، چې د د کډوالو د ښه خدمت رسونې او د ستونزو د حل لپاره به اړین اقدامات ترسره کېږي او یادې ستونزې به د وزارت له مقام سره شریکې کړي.
په پای کې، محترم عبدالحکیم مصباح هم د د کډوالو د چارو د لا ښه خدمت او د اسانتیاوو د برابرولو په اړه خپل ډاډ څرګند کړ.



## د کډوالو او راستنېدونکو چارو وزارت مقام د دفتر رییس له همکارو ادارو سره ولیدل

محترم مولوي سعید احمد بنوري د کډوالو او راستنېدونکو چارو وزارت مقام د دفتر رییس، د خپل کاري سفر پر مهال ننګرهار ولایت ته د همکارو ادارو د یو شمېر استازو سره لیدنه او خبرې وکړې.
په دې لیدنه کې د وزارت د دفتر رییس د یادو ادارو له همکاریو څخه مننه وکړه او ویې ویل: موږ له تاسو سره همکار یو او اوږه په اوږه درسره ولاړ یو. هره ستونزه، چې وي، موږ به یې له مرکزه سره شریکه کړو. د کډوالو سره مرسته کول؛ یو انساني او بشري عمل دی چې باید یوازې د الله (ج) د رضا لپاره ترسره شي او په دې برخه کې باید له هیڅ ډول هڅې ډډه ونه شي.
همدارنګه ښاغلي بنوري د یادو ادارو د کارکوونکو ستونزې له نږدې واورېدې او ډاډ یې ورکړ، چې یاده موضوع به د کډوالو چارو وزارت مشرتابه سره شریکه کړي. نوموړي زیاته کړه، چې هر ډول اسانتیاوې او همکارې، چې اړتیا وي له همکارو ادارو سره به شریکه شي.



## په نیمروز ولایت کې ۱۵۰۰ جریبه ځمکه د کډوالو د ښارګوټي د جوړولو په موخه د کډوالو چارو وزارت ته ولېږدول شوه.

د کډوالو او راستنېدونکو چارو وزارت په وړاندیز او د عالیقدر امیرالمؤمنین (حفظه الله تعالی) د حکم پر بنسټ د کرنې، اوبو لګولو او مالدارۍ وزارت د اراضۍ لوی ریاست له لوري د نیمروز ولایت په خاشرود ولسوالۍ کې ۱۵۰۰ جریبه ځمکه د کډوالو د ښارګوټي د جوړولو په موخه د کډوالو او راستنېدونکو چارو وزارت ته ولېږدول شوه.

د دې ځمکې د لېږد تړون د کرنې، اوبولګولو او مالدارۍ وزارت د اراضۍ لوی ریاست د ځمکو د انتقال او وېش رییس مولوي سید محمد سعید او د کډوالو او راستنېدونکو چارو وزارت د راستنېدنې او بیا مېشتېدنې رییس مولوي شکرالله شاکر ترمنځ لاسلیک شو . یاده غونډه چې د کرنې، اوبولګولو او مالدارۍ وزارت د اراضۍ لوی ریاست په ودانۍ کې جوړه شوې وه.

د کډوالو او راستنېدونکو چارو وزارت د دې مهمې پرېکړې له امله له اړوندو ادارو په ځانګړې توګه د کرنې، اوبولګولو او مالدارۍ وزارت څخه مننه وکړه او ډاډ یې ښکاره کړ، چې دغه ځمکه به د کډوالو او راستنېدونکو هېوادوالو د بیا مېشتېدنې او د هغوی د ژوند د ښه کولو لپاره په اغېزمنه توګه وکارول شي.



**هزار باب خیمه کمک کشور هندوستان، برای وزارت امور مهاجرین تسلیم داده شد**

یک هزار باب خیمه کمک کشور هندوستان، برای وزارت امور مهاجرین وعودت کننده گان، توسط مسوولان اداری سفارت هند مقیم کابل، در سیلوی مرکزی، تسلیم داده شد.
به گفته عبدالغفار انصاری مدیر عمومی محاسبه اجناس ریاست مالی واداری این وزارت، قرار است که این خیمه برای خانواده های متضرر ناشی از حوادث طبیعی که در وضعیت ناگوار انسانی قرار گرفته و نیاز شدید به کمک‌های فوری دارند توزیع خواهد شد تا آنان مورد حمایت قرار گیرند.
گفتنی است که کشور هند، چندی قبل نیز مساعدت های بشری را برای مهاجرین در کشور کمک نموده بود.




## کشور چین ۱۴۱ باب خانه فابریکه ای برای وزارت امور مهاجرین کمک کرد

کشور چین به ادامه کمک هایش، این بار، ۱۴۱ باب خانه فا بریکه ای را برای وزارت امور مهاجرین مساعدت نمود.
این خانه‌ها که ۹ متر طول و ۳.۳۰ متر عرض دارند، دارای حمام، آشپزخانه، سیستم برق و سایر سیستم های ضروری هستند.
انجنیران چینی برای ۱۲ تن کارمندان این وزارت در مورد نصب و جابجایی این خانه‌ها که به منظور اسکان عودت‌کنندگان به مرزهای کشور ارسال می‌شوند، به مدت ده روز آموزش های عملی را ارائه مینمایند.



## د کډوالو چارو وزارت د همکارۍ یو هوکړه لیک لاسلیک کړ

د کډوالو او راستنېدونکو چارو وزارت د شلتر ناو نړیوالې موسسې سره د ۹۱ زره ۲۵۹ ډالرو په ارزښت د همکارۍ یو هوکړلیک لاسلیک کړ.
د یاد هو کړه لیک په بنسټ به نوموړې موسسه یاد مبلغ د خوراکي توکو د وېش په موخه په کابل کې په مصرف ورسوي، چې ۹۶۵ کورنۍ به یې له ګټې برخمنې شي.



## در هفته روان؛ نزدیک به ۴ هزار خانواده در ۱۱ ولایت کشور، کمک شد

برای ۳۷۹۲ خانواده بیجاشده، برگشت کننده، نیازمند و جامعه میزبان در ولایات کابل، بلخ، خوست، بغلان، بدخشان، غزنی، جوزجان، سرپل، ننگرهار، بادغیس و تخار، کمک های نقدی، خوراکی و غیر خوراکی درهفته روان، توزیع شد.
کمک های مذکور برای ۱۱۳۴ خانواده در بلخ مبلغ ۳۲۷ هزار افغانی و ۱۱ قلم مواد خوراکی، برای ۳۲۰ خانواده در کابل ۹ قلم مواد خوراکی و مبلغ ۲ میلیون ۵۷۹ هزار و ۲۶۰ افغانی، برای ۱۰۵ خانواده در بغلان مبلغ ۶۹۴ هزار افغانی و یک باب خیمه، برای ۱۱۲ خانواده در خوست مبلغ یک میلیون ۵۲۳ هزار و ۲۰۰ افغانی، برای ۴۸ خانواده در بدخشان مبلغ ۶۴۸ هزار افغانی، برای ۶۱ خانواده در غزنی مبلغ ۸۵۸ هزار و ۵۰۰ افغانی، برای ۲۶۳ خانواده در جوزجان ۷ قلم مواد خوراکی و مبلغ ۲۱۷ هزار و ۵۰ افغانی، برای ۲۱۹ خانواده در سرپل مبلغ ۳۲۱ هزار و ۶۰۰ افغانی و یک بسته صحی شامل ۱۴ قلم؛ برای ۱۲۵۰ خانواده در ننگرهار ۴ قلم مواد خوراکی، برای ۱۸ خانواده در بادغیس مبلغ ۲ میلیون ۵۰۹ هزار و ۵۴۰ افغانی، یک باب خیمه و یک تخته کمپل، برای ۲۶۲ خانواده در تخار مبلغ یک میلیون ۹۵۶ هزار افغانی کمک نهاد های همکار این وزارت بود که پس از شناسایی آنان توزیع شد.



## د بغلان والي د موسساتو سره د همغږۍ ناسته وکړه

په بغلان ولایت کې د شمال او شمال ختیځ زون د همکارو موسسو استازو، اړوندو دولتي ادارو او د بغلان د کډوالو ریاست د همغږۍ ناسته د یاد ولایت د والي په دفتر کې ترسره شوه.
په دې ناسته کې د دریو ولسوالیو (دشت ارچي، چهار دره او بغلان مرکزي) لپاره د موسسو د نویو پروګرامونو په اړه، چې د لوړې کچې د راستنېدونکو کډوالو د ستونزو او اړتیاوو د حل په موخه (د کارموندنې فرصتونه، لومړنۍ اړتیاوې، د ماینونو د خطرونو په اړه د پوهاوي، بنسټیز خدمتونه، تعلیم او روزنه او د اوبو رسولو) په برخو کې د ۲۲ میلیونو امریکایي ډالرو په ارزښت د راتلونکو دوو کلونو لپاره به پلي او عملي کېږي، چې په یاده غونډه کې پرې بحث وشو.
د همکارو موسسو استازو د ولایت له مقام او سکتوري ادارو څخه د امنیت د تامین او پروګرامونو د پلي کولو په برخه کې د همکارۍ غوښتنه وکړه او د پروګرامونو او پروژو د غوره پلي کولو او ګټې اخیستنې لپاره د دوامداره او پرله پسې څارنې غوښتنه یې وکړه.
د بغلان والي مولوي عبدالرحمن حقاني د راستنېدونکو کډوالو ستونزو ته د رسیدګۍ او پروګرامونو د پلي کولو له امله خوښي څرګنده کړه او د اسلامي امارت د اصولو په چوکاټ کې یې د هر ډول همکارۍ او همغږۍ ژمنه وکړه.
په پای کې، د بغلان مرکزي ولسوالۍ ولسوال د یادې ولسوالۍ د اوسېدونکو عمده ستونزې، لکه د سړکونو جغل اچونه، د څښاک پاکو اوبو ته لاسرسی، د سرپناه نه لرونکو راستنېدونکو لپاره موقتي سرپناه او روغتیایي مرکز جوړولو په اړه معلومات وړاندې کړل؛ ترڅو د ولایت د مقام په همغږۍ او د موسسو په ملاتړ د دغو ستونزو د حل لپاره اړین اقدامات وشي، چې دا موضوع د ناستې د ګډونوالو له خوا تایید او د نظري موافقې وړ وګرځېده.

**بیش از ۲۰۰ تن مهاجر پس از رهایی از زندان های پاکستان، به کشور برگشت نمودند**

۲٤۸ تن از افغان های مهاجر محبوس در کشور پاکستان از حبس آزاد و در هفته جاری، به کشور برگشت نمودند.
به اساس معلومات آمریت انتقالات مهاجرین سپین بولدک ولایت قندهار افراد یاد شده در بخش های مختلف کشورپاکستان بازداشت شده بودند و مدت یک الی ۵ روز را دربند بودند.
افراد مذکور بعد از ثبت و دریافت مساعدت های بشری به محلات اصلی شان انتقال شدند.